دافغانستان اسلامي جمهوریت
دعدلیې وزارت

# رسمي جريده

## فوق العاده ګڼه

- د تروریزم له تمویل څخه دمخنیوي قانون
- په نظامي قطعاتو کې داطفالو (ماشومانو) د استخدام دمنع قانون
- د جزایي اجراآتو د قانون دشپږویشتمې مادې تعدیل
- د.ا.ا.ج د قضائیه قوې د تشکیل اوواک د قانون دځینو مادو تعدیل او حذف

- قانون جلوگیری از تمویل تروریزم
- قانون منع استخدام اطفال در قطعات نظامی
- تعدیل مادهٔ بیست و ششم قانون اجراآت جزائی
- تعدیل و حذف بعضی از مواد قانون تشکیل و صلاحیت قوهٔ قضائیه ج.ا.ا

---

دخپریدونېټه:د۱۳۹۳ هـ .ش کال دوږي دمیاشتې(۱۷)
پرله پسې نمبر: (۱۱۴۶)

تاریخ نشر: (۱۷) سنبله سال ۱۳۹۳ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۱۴۶)

**در این شماره**


۱. قانون جلوگیری از تمویل تروریزم صفحه (۱-۳۸).

۲. قانون منع استخدام اطفال در قطعات نظامی صفحه (۳۹-۴۱).

۳. تعدیل مادهٔ (۲٦) قانون اجراآت جزائی صفحه (۴۲-۴۴).

۴. تعدیل و حذف بعضی از مواد قانون تشکیل و صلاحیت قوهٔ قضائیه ج.ا.ا صفحه (۴۵-۴۷).

۵. تصحیح ضروری در برخی از مواد قانون اجراآت جزائی منتشرهٔ جریده رسمی شماره (۱۱۳۲) مورخ ۱۳۹۳/۲/۱۵ صفحه (۴۸).

٦. مجموعه صفحات این شماره بشمول ابجد، متن و پشتی دارای (٦۹) صفحه.



**د امتیــاز خاوند:** د عدلیـــې وزارت

**مسئول چلوونکی:** قانونمل محمدرحیم "دقیق" ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

**د دفتر تیلفون:** ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹

**مرستیـــال:** نورعلم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

**مهتمـــم:** محمد جان ۰۷۸۳۳۰٦۹۸۲

**وب سایت:** www.moj.gov.af

**قیمت این شماره:** (۵۰) افغانی

**تیراژ چاپ:** (۳۰۰۰) جلد

**مطبعـــه:** بهیـــــر

**آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، چهارراهی پشتونستان، کابل**

د تروريزم له تمويل څخه دمخنيوي
د قانون  د توشېح په هکله،
دافغانستان داسلامي جمهوريت
د رئيس
فرمان

ګڼه: (۴۹)

نېټه: ۱۳۹۳/۴/۱۲

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د (٦۴) مادې د (۱٦) فقرې د حکم له مخې، د تروريزم له تمويل څخه د مخنيوي قانون چې د ملـــي شوري د ولسي جرګې د ۱۴/ ۳/ ۱۳۹۳ نېټې (۱۲٦) ګڼې او د مشرانو جرګـــې د ۴/ ۴/ ۱۳۹۳ نېټې (۱۲۴) ګڼې مصوبو په صادرېدو سره، په (۵) فـــصلونو او (۲۹) مادوکې تصويب شوی دی، توشېح کوم.

دوه يمه ماده:

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د ملي شوري له مصوبو سره يو ځای دې، په رسمي جريده کې خپور شي.

حامد کرزی

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

فرمان
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان
درمورد توشیح، قانون
جلوگیری از تمویل
تروریزم

شماره: (۴۹)

تاریخ: ۱۳۹۳/۴/۱۲

مادهٔ اول:

به تأسی از حکم فقرهٔ (۱٦) مادهٔ ( ٦۴) قانون اساسی افغانستان، قانون جلوگیری از تمویل تروریزم را که با صدور مـــصوبهٔ شماره (۱۲٦) مـؤرخ ۱۳۹۳/۳/۱۴ ولسی جرگه و مصوبهٔ شـــماره (۱۲۴) مؤرخ ۱۳۹۳/۴/۴ مشرانو جرگه شورای ملی به داخل (۵)فـــصل و (۲۹) مـــاده تصویب گردیده است، توشیح می دارم.

مادهٔ دوم:

این فرمان از تـــاریخ توشـــیح نافـــذ و همـــراه بـــا مـــصوبات شـــورای ملی، در جریدهٔ رسمی نشرگردد.

حامد کرزی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

ولسي جرګه

دتروريزم له تمويل څخه د مخنيوي

قانون

مصوبه

ګڼه: (۱۲٦)

نېټه: ۱۴/ ۳/ ۱۳۹۳

د افغانستان داساسي قانون دنوي يمې مادې له لومړي بند او د اووه نوي يمې مادې له درج شوي حکم سره سم، ولسي جرګې د ۱۴/ ۳/ ۱۳۹۳ نېټې په عمومي غونډه کې د تروريزم له تمويل څخه د مخنيوي قانون په (۵) فصلونو او (۲۹) مادوکې له يو شمېر تعديلونو او ايزاد سره تصويب کړ.

عبدالرووف "ابراهيمي"

د ولسي جرګې رئيس

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

ولسی جرگه

مصوبه

قانون جلوگيری از تمويل

تروريزم

شماره: (۱۲٦)

تاريخ: ۱۳۹۳/۳/۱۴

به تأسی از حکم مندرج بند اول مادۀ نودم ونود وهفتم قانون اساسی افغانستان، ولسی جرگه در جلسۀ عمومی مؤرخ ۱۳۹۳/۳/۱۴ خويش قانون جلوگيری از تمويل تروريزم را با يک سلسله تعديلات و ايزاد در(۵) فصل و (۲۹) ماده تصويب نمود.

عبدالرووف "ابراهيمی"

رئيس ولسی جرگه

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

مشرانو جرگه

د تروريزم له تمويل څخه د مخنيوي

د قانون د طرح په هکله،

مصوبه

گڼه: (۱۲۴)

نېټه: ۴/ ۴/ ۱۳۹۳

د افغانستان د اساسي قانون د نوي يمې مادې له حکم سره سم، مشرانو جرگې د خپلې ۴/ ۴/ ۱۳۹۳ نېټې په فوق العاده عمومي غونډه کې د تروريزم له تمويل څخه د مخنيوي د قانون طرح د رأيو په اکثريت تصويب کړ.

فضل هادي "مسلمیار"

د مشرانو جرگې رئيس

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

مشرانو جرگه

مصوبه

در مورد طرح قانون جلوگیری از

تمویل تروریزم

شماره: (۱۲۴)

تاریخ: ۱۳۹۳/۴/۴

به تأسی از حکم مادۀ نودم قانون اساسی افغانستان، مشرانو جرگه طرح قانون جلوگیری از تمویل تروریزم را، در جلسۀ عمومی فوق العاده مؤرخ ۱۳۹۳/۴/۴ خویش به اکثریت آراء تصویب نمود.

فضل هادی "مسلمیار"

رئیس مشرانو جرگه

## فهرست مندرجات

## قانون جلوگیری از تمویل تروریزم

### فصل اول

### احکام عمومی

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم: | هدف | ۱ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۲ |
| مادۀ چهارم: | جرم تمویل تروریزم | ۴ |
| مادۀ پنجم : | ساحۀ تطبیق | ۷ |

### فصل دوم

### همکاری میان کشورها

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ ششم : | همکاری متقابل | ۹ |
| مادۀ هفتم : | حق مکاتبه (ارتباط) | ۱۰ |
| مادۀ هشتم : | اطلاعیه به کشورهای ذیربط | ۱۱ |

### فصل سوم

### تدابیر احتیاطی

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ نهم : | ضبط وتدابیری احتیاطی | ۱۱ |
| مادۀ دهم : | شامل ساختن در لست تعزیرات | ۱۴ |

مادهٔ یازدهم: انجماد وجوه ودارایی ها براساس قطعنامه های........
شورای امنیت ملی............................۱٦
مادهٔ دوازدهم: منازعات منجمدسازی............................۲۲
مادهٔ سیزدهم: مصادره..................................۲۳
مادهٔ چهاردهم: مصادرهٔ وجوه و دارائی های سازمان تروریستی............۲٦
مادهٔ پانزدهم: ابطال بعضی از اسناد قانونی............................۲۷
مادهٔ شانزدهم: انتقال وجوه و دارائی های مصادره شده................۲۷
مادهٔ هفدهم: ادعای اشخاص ثالث..................................۲۸
مادهٔ هجدهم: استثناآت بشر دوستانه..............................۲۸
مادهٔ نزدهم: خارج شدن از لست تعزیرات..........................۳۰

فصل چهارم

احکام جزائی

مادهٔ بیستم: مجازات اشخاص حقیقی..................................۳۱
مادهٔ بیست ویکم: مجازات اشخاص حکمی..............................۳۲
مادهٔ بیست ودوم: مجازات مؤسسات غیر انتفاعی.........................۳۳
مادهٔ بیست وسوم: مجازات سازمان جنایتکار..........................۳۴
مادهٔ بیست و چهارم: احوال مشدده و مخففه..........................۳۵
مادهٔ بیست و پنجم: تخلف وظیفوی..................................۳۵

## فصل پنجم

## احکام متفرقه

مادهٔ بیست و ششم: طرزالعمل ثبت...................................................۳٦
مادهٔ بیست و هفتم: نگهداری معلومات، سوابق و صورت حسابات مالی سالانه..۳٦
مادهٔ بیست و هشتم: منع فعالیت و انحلال سازمان های غیر انتفاعی.............۳۷
مادهٔ بیست و نهم: انفاذ.........................................................۳۸

# د تروريزم له تمويل څخه د مخنيوي قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د اوومې مادې د حکم په رڼا کې، وضع شوی دی.

**موخه**

**دوه يمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱ - د تروريزم له تمويل څخه د مخنيوي لپاره د (۱۹۹۹) کال د نړيوال کنوانسيون او د هغه د ورپسې کنوانسيونونو په پام کې نيول.

۲ - د تروريستي سازمان او تروريستانو په واسطه د تروريستي اعمالو د ترسره کولو لپاره د وجوهو او شتمنيو له برابرولو څخه مخنيوی.

۳ - د تروريزم له تمويل او د ټوليزو وژنو د تسليحاتو د خپرولو لپاره له مالي تمويل

# قانون جلوگيری ازتمويل تروريزم

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

اين قانون در روشنی حکم مادۀ هفتم قانون اساسی افغانستان، وضع گرديده است.

**هدف**

**مادۀ دوم:**

اهداف اين قانون عبارت اند از:

۱ - رعايت کنوانسيون بين المللی سال(۱۹۹۹) و کنوانسيون های متعاقب آن جهت جلوگيری از تمويل تروريزم.

۲ - جلوگيری از فراهم نمودن وجوه ودارايی ها جهت انجام اعمال تروريستی توسط سازمان تروريستی و تروريستان.

۳ - رعايت قطعنامه های شورای امنيت سازمان ملل متحد در

سره د مبارزې په اړه د ملګرو ملتونو د سازمان د امنيت شورې د قطع ليکونو په پام کې نيول.

**اصطلاحګانې**

**درېيمه ماده:**

راتلونکې اصطلاحګانې پدې قانون کې لاندې مفاهيم افاده کوي:

۱ - په تروريستي جرمونو کې لاندې اعمال شامل دي:

- هغه عمل چې د تروريزم له تمويل څخه د مخنيوي په کنوانسيون کې د درج شوو ضميمو مطابق، د جرم په توګه ګڼل شوی وي.

- هغه عمل چې د قتل يا شديد ټپ يا د وېرې د رامنځته کولو په قصد ترسره شي او موخه يې د ماهيت او د قرينې له نظره په يوه ټولګي (جمعيت) کې وېره اچونه يا حکومت يا نړيوال سازمان د يوه عمل په ترسره کولو يا نه ترسره کولو باندې مجبورول وي.

۲ - تروريست: هغه حقيقي شخص دی چې له لاندې عملونو څخه د يوه مرتکب شي:

رابطه با مبارزه با تمويل تروريزم و تمويل مالی جهت تکثير تسليحات کشتار جمعی.

**اصطلاحات**

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی در اين قانون مفاهيم ذيل را افاده می نمايد:

۱ -جرايم تروريستی شامل اعمال ذيل می باشد:

- عملی که مطابق ضمائم مندرج کنوانسيون جلوگيری از تمويل تروريزم به حيث جرم شناخته شده باشد.

- عملی که به قصد قتل يا جراحت شديد يا ايجاد ترس، صورت گيرد و هدف آن از نگاه ماهيت و قرينه دهشت افگنی در بين يک جمعيت يا وادار ساختن حکومت يا سازمان بين المللی به انجام ياعدم انجام يک عمل باشد.

۲ - تروريست: شخصی حقيقی است که مرتکب يکی از اعمال ذيل گردد:

- په مستيقم يا غير مستقيم ډول عمداً د تروريستي عمل مرتکب شوی وي يا د ارتکاب لپاره ئې هڅه کړې وي.
- د تروريستي عمل په ارتکاب کې يې معاونت (مرستيالي) يا ګډون کړی وي.
- د تروريستي عمل ارتکاب ته يې سازمان ورکړی وي يا ئې رهبري کړې وی يا نورو ته ئې د تروريستي جرم د ارتکاب لارښوونه کړې وي.
- عمداً او د تروريستي اعمالو د پرمخ بيولو په موخه له هغې ډلې سره چې د تروريستي اعمالو د ترسره کولو لپاره ګډه موخه لري، همکاري وکړي يا د تروريستي اعمالو د ترسره کولو په اړه د نوموړې ډلې له موخو څخه د خبرتيا سره سره له هغوی سره همکاري وکړي.
۳- تروريستي سازمان: هغه منظم تشکيلات دي چې غړي ئې په ګډې موخې سره ددې مادې په (۲) جزء کې د درج شوو اعمالو ديوه د ارتکاب لپاره، فعاليت کوي.
۴- غير انتفاعي مؤسسې: هغه حُکمي شخص، سازمان يا خاص ترتيبات دي چې

- عمل تروريستی را طور مستقيم يا غير مستقيم عمداً مرتکب شده يا در جهت ارتکاب آن سعی نموده باشد.
- در ارتکاب عمل تروريستی معاونت يا اشتراک نموده باشد.
- ارتکاب عمل تروريستی راسازماندهی يا رهبری نموده يا ديگران را به ارتکاب جرم تروريستی هدايت داده باشد.
- عمداً و به هدف پيشبرد اعمال تروريستی باگروهی که هدف مشترک برای انجام اعمال تروريستی دارند همکاری نموده يا با وجود اطلاع از اهداف گروه متذکره مبنی بر انجام اعمال تروريستی با آنها همکاری نمايد.
۳- سازمان تروريستی: تشکيلات منظمی است که اعضای آن با هدف مشترک در جهت ارتکاب يکی ازاعمال مندرج جزء (۲) اين ماده فعاليت می نمايند.
۴- مؤسسات غير انتفاعی: شخص حکمی، سازمان يا ترتيبات

اساساً د خیریه، مذهبي، فرهنگي، تحصیلي، ټولنیزو یا ائتلافي (یووالي او دوستۍ) خیریه چارو یا د خیریه چارو د نورو ډولونو لپاره د وجوهو د راټولولو یا د هغو د لګولو په چاروکې بوختیا ولري.

۵- د وجوهو او شتمنیو، د رپوټ ورکوونکې مرجع، له جرمونو څخه د را پیدا شوو عوایدو، معاملې، کنګلولو، ضبط او مصادرې اصطلاحګانې چې د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د را پیدا شوو عوایدو د مخنیوي په قانون کې توضیح شوي دي، پدې قانون کې هم د عین مفهوم لرونکې دي.

**د تروریزم د تمویل جرم**

**څلورمه ماده:**

(۱) شخص، په هغهٔ صورت کې د تروریزم د تمویل د جرم مرتکب ګڼل کیږي چې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول عمداً وجوه او شتمنۍ یا مالي خدمتونه پدې باندې د علم یا خبرتیا سره سره، چې نوموړي وجوه او شتمنۍ یا خدمتونه، قسماً یا کُلاً د تروریستي جرمونو د ارتکاب یا د تروریست شخص یا

خاصی است که اساساً به امور جمع آوری وجوه یا مصرف آن در جهت امور خیریه، مذهبی، فرهنگی، تحصیلی، اجتماعی یا ائتلافی ( وحدت و دوستی) یا سایر انواع امور خیریه، اشتغال دارد.

۵- اصطلاحات وجوه یا دارائی ها، مرجع راپور دهنده، عواید ناشی ازجرایم، معامله، انجماد، ضبط و مصادره که درقانون جلوگیری از پول شوئی وعواید ناشی از جرایم توضیح گردیده است دراین قانون نیز دارای عین مفهوم می باشد.

**جرم تمویل تروریزم**

**مادهٔ چهارم:**

(۱) شخص، در صورتی مرتکب جرم تمویل تروریزم شناخته می‌شود که طور مستقیم یا غیر مستقیم، عمداً وجوه و دارائی‌ها یا خدمات مالی را با وجود داشتن علم یا اطلاع براینکه وجوه و دارائی ها یا خدمات مذکور، قسماً یا کلاً به مقصد ارتکاب جرایم تروریستی یا استفادهٔ شخص

ترووريستي سازمان د ګټې اخيستنې يا د هغوی لپاره د اسانتياوو د برابرولو په مقصد کارول کېږي، برابرې يا راټولې کړې او يا د هغو په راټولولوکې هڅه وکړي.

(۲) د تروريزم د تمويلولو عمل په هر ځای او د هر دولت په قلمروکې چې ترسره شي او يا يې د ترسره کولو قصد موجود شي، له دې څخه له په پام کې نيولو پرته چې نوموړی شخص يا سازمان په کوم ځای يا د کوم دولت په قلمروکې موجود دی يا موقعيت لري، جرم ګڼل کېږي که څه هم چې:

۱ - ترووريستي عمل بالفعل نه وي واقع شوی يا د ترسره کولو لپاره يې هڅې صورت نه وي موندلې.

۲ - له نظر وړ مالي وجوهو څخه د ترووريستي عمل په ترسره کولو کې بالفعل ګټه نه وي اخيستل شوې يا پدې برخه کې هڅې صورت نه وي موندلې.

۳ - د نوموړو مالي وجوهو او د ترووريستي عمل ترمنځ اړيکه موجوده نه وي.

تروريست يا سازمان تروريستی يا فراهم آوری تسهيلات برای آنها بکار برده می شود، تهيه يا جمع آوری نموده و يا به جمع آوری آن سعی نمايد.

(۲) عمل تمويل تروريزم درهر مکان و قلمرو هردولتی که انجام گردد ويا قصد انجام آن موجود شود، بدون درنظر داشت اينکه شخص يا سازمان مذکور درکدام مکان يا قلمرو کدام دولت موجود بوده يا موقعيت دارد، جرم شناخته می شود هرچند:

۱ - عمل تروريستی بالفعل واقع نشده يا در جهت انجام آن تلاش صورت نگرفته باشد.

۲ - از وجوه مالی مورد نظر، بالفعل درانجام عمل تروريستی استفاده نشده يا تلاشی دراين زمينه صورت نگرفته باشد.

۳ - بين وجوه مالی مذکور وعمل تروريستی ارتباطی موجود نباشد.

(۳) شخص په لاندې حالاتوکې هم د تروريزم د تمويل د جرم مرتکب ګڼل کېږي:

۱ - ددې مادې د (۱ او ۲) فقرو په درج شوي جرم کې ئې ګډون کړی وي يا د هغه د ترسره کولو لپاره يې هڅه يا همکاري کړې وي.

۲ - نور اشخاص ئې پدې ماده کې د درج شوي جرم د ارتکاب په غرض، سازمان دهي، لارښوونه يا تحريک کړي وي.

۳ - پدې ماده کې د درج شوي يوه يا له يوه څخه د زيات جرم په ارتکاب کې د اشخاصو له هغې ډلې سره چې په ګډه موخې، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم د ارتکاب لپاره فعاليت کوي، د جرم د ارتکاب په هکله د هغو له موخو څخه دعلم په لرلو سره سره، همکاري وکړي يا د هغو د موخو د ترسره کولو يا د فعاليت د پرمخ بيولو لپاره لازمې اسانتياوې برابرې کړي.

(۴) سياسي، عقيدتي، توکميز، قومي، مذهبي او اخلاقي ملاحظې يا ورته نور

(۳) شخص در حالات آتی نيز مرتکب جرم تمويل تروريزم شناخته می شود:

۱ - در جرم مندرج فقرهٔ (۱و ۲) اين ماده اشتراک نموده يا جهت انجام آن تلاش يا همکاری نموده باشد.

۲ - ساير اشخاص را غرض ارتکاب جرم مندرج اين ماده سازمان دهی، رهنمائی يا تحريک نموده باشد.

۳ - در ارتکاب يک يا بيشتر از يک جرم مندرج اين ماده با گروهی از اشخاص که با هدف مشترک جهت ارتکاب جرم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده فعاليت می نمايند با وصف داشتن علم از هدف آنها مبنی برارتکاب جرم، همکاری نموده يا تسهيلات لازم را جهت برآورده شدن اهداف يا پيشبرد فعاليت آنها فراهم نمايد.

(۴) ملاحظات سياسی، عقيدتی، نژادی، قومی، مذهبی و اخلاقی يا ساير موارد

موارد، پدې ماده کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب د مشروعيت دليل نه ګڼل کېږي.

(۵) د تروريزم د تمويل جرم د پيسو د وينځلو لپاره د اصلي جرم په توګه ګڼل کېږي.

د تطبيق ساحه

پنځمه ماده:

(۱) ددغه قانون حکمونه ددې قانون په څلورمه ماده کې د درج شوو جرمونو پر مرتکبينو باندې په لاندې حالاتو کې د تطبيق وړ دي:

۱- جرم د افغانستان د دولت د قلمرو په دننه کې ارتکاب شوی وي.

۲- جرم د هغې بېړۍ په دننه کې چې د افغانستان د دولت د بيرغ لېږدوونکی وي يا په هغه الوتکه کې چې د جرم له پېښېدو څخه دمخه، د هېواد د نافذه قوانينو مطابق ثبت شوې، ارتکاب موندلی وي.

۳- جرم د افغانستان د تبعې په واسطه ارتکاب شوی وي.

۴- جرم د افغانستان له قلمرو څخه بهر د هغه بهرني شخص په واسطه ارتکاب

مشابه، دليل مشروعيت ارتکاب جرايم مندرج اين ماده شناخته نمی شود.

(۵) جرم تمويل تروريزم به حيث جرم اصلی برای پول شوئی محسوب می شود.

ساحۀ تطبيق

مادۀ پنجم:

(۱) احکام اين قانون بالای مرتکبين جرايم مندرج مادۀ چهارم اين قانون در حالات ذيل قابل تطبيق می باشد:

۱- جرم درداخل قلمرو دولت افغانستان ارتکاب يافته باشد.

۲- جرم در داخل کشتی ايکه حامل بيرق دولت افغانستان بوده يا در طيارۀ که قبل از وقوع جرم، طبق قوانين نافذه کشور ثبت گرديده، ارتکاب يافته باشد.

۳- جرم توسط تبعۀ افغانستان ارتکاب گرديده باشد.

۴- جرم در خارج از قلمرو افغانستان توسط شخص خارجی ارتکاب

شوی وي چې په افغانستان کې مېشت وي او د افغانستان دولــت د هماغــه ارتکاب شوي جرم پربنسټ، بهرني دولت ته د شخص په بېرته ستنولو موافق نه وي.

۵- جرم د افغانستان د دولت د تبعې پر وړاندې له هېواد څخه بهــر ارتکــاب موندلی وي.

٦- جرم د قنسلگرۍ د دفترونو یــا د هېواد د ډیپلوماتیکو مرکزونو په شمول په ودانۍ (ساختمان) یا د افغانستان په دولت پورې د اړوندې ودانۍ پر وړاندې چې د هېواد له جغرافیایي محدودې څخه بهر واقع دي، ارتکاب شوی وي.

۷- ددې قانون د دریېمې مادې په (۲) جزء کې درج شوي جرمونه چې د یــو عمل په اجراء یا نه اجراء کولو سره د افغانستان د دولت د مجبورولو په قصد صورت موندلی وي.

۸- جرم د هغه بې تابعیته شــخص پــه واسطه چې د افغانستان د دولت په قلمرو کې مېشت وي یا اکثراً په افغانستان کې اقامت ولري، ارتکاب شوی وي.

(۲) ستره محکمه کولای شي، هغــو

گــردیده باشـــد که در افغانســـتان مقیم بوده ودولت افغانستان بر اساس همــان جــرم ارتکاب یافته به استرداد شخص به دولت خارجی موافق نباشد.

۵- جرم علیه تبعهٔ دولت افغانســتان در خـــارج کـــشورارتکاب یافتـــه باشد.

٦- جرم در ساختمان یا علیه ساختمان متعلق به دولت افغانستان بشـــمول دفاتر قنسلگری یا مراکز دیپلوماتیک کشــور کـــه در خارج از محدودهٔ جغرافیائی کشور واقــع است، ارتــکاب گردیده باشد.

۷- جرایم مندرج جزء (۲) مادهٔ سوم این قانون که به قصد وادار نمـــودن دولت افغانستان به اجراء یا عدم اجرای یـــک عمـــل صـــورت گرفتـــه باشد.

۸- جرم توسط شخص بدون تابعیت که در قلمرو دولت افغانستان مقیم بوده یا اکثراً در افغانستان اقامت داشته باشد، ارتکاب گردیده باشد.

(۲) ستره محکمه می تواند به منظور

جرمونو ته د رسيدنې په منظور چــې د هېواد له جغرافيايي محدودې څخه بهر ارتکاب شوي وي، په مرکزکې اختصاصي محکمه جوړه کړي.

## دوه یم فصل

## د هېوادونو ترمنځ همکاري

### متقابله همکاري

**شپږمه ماده:**

د افغانستان واکمني مراجعې مکلفې دي، د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو دمخنیوي قانون پر بنــــسټ د معلومـــــاتو، تحقیقـــــاتي تدبیرونو،قضایي، احتیاطي تـــدبیرونو، مصادرې، د اسنادو تهیه او تدارک، وجوه یا هغه شتمنۍ چې د تروریزم له تمویـــل سره اړه لري د بېرته ګرځولو دوه اړخیزو قضایي او عدلي همکاریو، د وجوهو یا شتمنیو تسلیمولو، د نورو هېوادونولــــه تخنیکي همڅنګانوسره اړین مساعدتونه او اړوندو قضایي دستورونو د پلي کولو په منظور، د نورو هېوادونو له چارواکوسره اړینه همکاري وکړي.

رسیدگی به جرایمی که در خـــارج از محدوده جغرافیائی کـــشور ارتکـــاب گردیده باشد، محکمهٔ اختصاصی را در مرکز ایجاد نماید.

## فصل دوم

## همکاری میان کشور ها

### همکاری متقابل

**مادهٔ ششم:**

مراجـــــع ذیـــــصلاح افغانــــــستان مکلـــــف انـــــد بـــــر اســـــاس قـــــانون جلوگیری از پول شوئی و عواید ناشی از جرایم، در جهت تبادل معلومات، تدابیر تحقیقاتی، قضایی، تدابیر احتیـــاطی، مصادره، تهیه و تدارک اسناد، وجوه یا دارائی های که با تمویل تروریزم ارتباط می گیرند به منظور استرداد، همکاری های عدلی و قضایی دو جانبه، واگذاری وجوه یا دارائی ها، مساعدت های لازم تخنیکی با همتایان سایر کـــشورها و تطبیق دساتیر قـــضایی مربـــوط، بـــا مقامات سایر کشورها همکـــاری لازم نماید.

## د مکاتبې (اړیکې) حق

اوومه ماده:

(۱) هغه شخص چې د افغانستان تابعیت و نه لري یا په افغانستان کې مېشت نه وي او پدې قانون کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب له امله ترڅارنې یا توقیف لاندې ونیول شي، د لاندې حقوقو لرونکی دی:

۱ - د هغه متبوع دولت له استازي یا شخص سره چې د هغه د حقوقو د ساتلو واک لري، د سملاسي اړیکې نیول.

۲ - د بې تابعیته شخص لیدنه کتنه د هغه هېواد له استازي سره چې غالباً په هغه کې استوګنه لري.

۳ - هغوی ته پدې فقره کې د درج شوو حقوقو ابلاغول.

(۲) که چېرې د څارنوالۍ اداره د شخص د نیولو او توقیفولو په اړه غوښتنلیک د هغه دولت لخوا چې جرم د هغه د قضایي واک په حوزه کې ارتکاب شوی، ترلاسه کړي، مکلفه ده، ددې قانون د حکمونو مطابق له تر څارنې یا توقیف لاندې شخص سره د متبوع هېواد د رسمي استازي او د سره صلیب د نړیوالې کمیټې

## حق مکاتبه ( ارتباط)

مادهٔ هفتم:

(۱) شخصی که تابعیت افغانستان را دارا نبوده یا مقیم افغانستان نباشد و به علت ارتکاب جرایم مندرج این قانون تحت نظارت یا توقیف قرار گیرد، دارای حقوق ذیل می باشد:

۱ - تماس گرفتن فوری با نمایندهٔ دولت متبوع یا شخصی که صلاحیت حفظ حقوق وی را داشته باشد.

۲ - ملاقات شخص بدون تابعیت با نمایندهٔ کشوری که غالباً در آن سکونت دارد.

۳ - ابلاغ حقوق مندرج این فقره به آنها.

(۲) هرگاه ادارهٔ څارنوالی درخواست مبنی بر گرفتاری و توقیف شخص را از جانب دولتی که جرم در حوزهٔ صلاحیت قضائی آن ارتکاب گردیده، دریافت نماید مکلف است تدابیر لازم را در مورد ملاقات نمایندهٔ رسمی کشور متبوع و نمایندهٔ کمیتهٔ بین المللی صلیب سرخ با شخص تحت نظارت یا

د استازي د ليدنې کتنې په هکلـــه لازم تدبيرونه ونيسي.

## اړوندو هېوادونو ته خبرتيا

اتمه ماده:

که چېرې شخص ددې قانون د اوومــې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي حکم له مخې، تر توقيف يا تحقيق لاندې قرار ومومي، د څارنوالی اداره مکلفه ده په لنډ وخت کــې د افغانــستان د دولــت د ديپلوماتيکو لارو له لارې، هغه هېواد ته چې جرم د هغه د قضايي واک په حوزه کې ارتکاب شوی وي او د اړتيــا پــه صورت کې علاقه لرونکو هېوادونو ته د هغه له توقيف او موجبه دلايلو څخه يې، وروستنيو پايلو او د خپل قضايي واک د تطبيق په اړه خبر کړي.

# دريېم فصل

## احتياطي تدبيرونه

## ضبط او احتياطي تدبيرونه

نهمه ماده:

(۱) واکمنه محکمه پــه خپلــه يــا د څارنــوال د غوښتنليک لــه املــه، د

تـــوقيف مـــطابق احکام اين قانون اتخاذ نمايد.

## اطلاعيه به کشورهای ذيربط

مادۀ هشتم:

هرگاه شخصی به تأسی از حکم فقــرۀ (۲) مادۀ هفتم اين قانون تحت توقيف يا تحقيق قرار گيرد، ادارۀڅارنوالی مکلف اســت بـــــلافاصله از طـــــريق مجاری ديپلوماتيک دولت افغانستان، کشـــــوری را که جــــرم در حوزۀ صـــلاحيت قـــضائی آن ارتکـــاب يافتــه و در صورت لزوم کشـــورهای ذيعـــلاقه را از تــــــوقيف و دلايل موجبۀ آن، نتايج نهايی و تصميم مبنی بر تطبيق صلاحيت قضايی خويش مطلــــع نمايد.

# فصل سوم

## تدابير احتياطی

## ضبط و تدابير احتياطی

مادۀ نهم:

(۱) محکمۀ ذيصلاح خود يا به اثــر درخواست څارنوال ، در ارتباط با جرم

ترووريزم دتمويل دجرم په اړه،په لنډ وخت کې په لاندې اقداماتو لاس پورې کوي:

۱ - د هغه جرم اړونده وجوه او شتمنۍ چې ترتحقيق لاندې دي، ضبط، کنګل يا تر مصادرې لاندې شتمنۍ يا وجوه دې په ځانګړې توګه وساتي.

۲ - د هغه جرم اړونده وجوه او شتمنۍ چې تر تحقيق يا مصادرې لاندې دي، تشخيص، رديابي کړي يا يې و ارزوي.

(۲) هغه وجوه يا شتمنۍ چې ددې مادې په (۱) فقره کې تر درج شوو احتياطي تدبيرونو لاندې قرار مومي، په لاندې مواردو کې شامل دي:

۱ - هغه وجوه يا شتمنۍ چې په څلورمه ماده کې د درج شوي جرم په ارتکاب کې د ګټې اخيستنې ورې ګرځېدلي يا له هغې څخه د ګټې اخيستنې قصد موجود وي يا د ګټې اخيستنې په موخه راټولې شوې وي.

۲ - تطهير شوي شتمنۍ.

۳ - هغه وجوه يا شتمنۍ چې له دغو

تمويل ترووريزم ،به اسرع وقت به اقدامات ذيل متوسل می شود:

۱ - وجوه يا دارائی های مرتبط با جرمی را که تحت تحقيق قرار دارد، ضبط، منجمد يا وجوه و دارايی تحت مصادره را مورد نگهداری خاص قرار دهد.

۲ - وجوه يا دارائی های مرتبط با جرمی را که تحت تحقيق يا مصادره قرار دارد، تشخيص، رديابی نموده يا مورد ارزيابی قرار دهد.

(۲) وجوه يا دارائی های که تحت تدابيراحتياطی مندرج فقرۀ (۱) اين ماده قرار می گيرند، شامل موارد ذيل می باشند:

۱ - وجوه يا دارائی های که در ارتکاب جرم مندرج مادۀ چهارم مورد استفاده قرار گرفته يا قصد استفاده از آن موجود باشد يا به منظور استفاده جمع آوری گرديده باشند.

۲ - دارائی های تطهير شده.

۳ - وجوه يا دارائی های که عوايد ناشی

جرمونوڅخه را پیدا شوي عواید وي.

۴- هغه وجوه یا شتمنۍ چې له عاید یا لومړنیوعوایدوڅخه د نورو راپیدا شوو امتیازونو په شمول په مستقیم یا غیر مستقیم ډول له جرمي عوایدو څخه ترلاسه شوي وي.

۵- هغه ابزار او وسایل چې د تروریزم د تمویل د جرم په ارتکاب کې د ګټې اخیستنې وړګرځیدلي یا له هغو څخه د ګټې اخیستنې قصد موجود وي.

٦ – هغه ورته شتمنۍ چې د دغې فقرې له (۱ تر ۵) جزونوکې له درج شویو شتمنیو سره معادل ارزښت ولري.

۷ – د هغو وجوهو او شتمنیو او شواهدو لرونکي اسناد چې د پام وړ شتمنیو تشخیصول اسانه کړي.

(۳) ددې مادې حکمونه د ثالثو اشخاصو حقوق چې په ښه نیت سره یې عمل کړی وي، نه اغېزمنوي.

(۴) واکمنه محکمه کولای شي، په هر وخت کې د څارنوالۍ یا د خاوند د قانوني غوښتنلیک پربنسټ، د ضبط او یا کنګلولو په اړه امر یا قرار لغو کړي.

از این جرایم باشند.

۴ - وجوه یا دارائی های که مستقیماً یا غیر مستقیم از عواید جرمی حاصل شده باشند بشمول درآمد یا سایر امتیازات ناشی از عواید اولیه.

۵- ابزار و وسایلی که در ارتکاب جرم تمویل تروریزم مورد استفاده قرار گرفته یا قصد استفاده از آنها موجود باشد.

٦- دارائی های مشابه که ارزش معادل دارائی های مندرج اجزای (۱ الی ۵) این فقره را دارا باشند.

۷- اسناد حاوی وجوه ودارائی وشواهدی که تشخیص دارائی های مورد نظر را تسهیل بخشند.

(۳) احکام این ماده حقوق اشخاص ثالث را که با حسن نیت عمل نموده باشند، متاثر نمی سازد.

(۴) محکمۀ ذیصلاح می تواند در هر زمانی بنا بر درخواست قانونی څارنوالی یا مالک، امریا قرارمبنی برضبط ویا انجماد را لغونماید.

## د تعزيراتو په لست کې شاملول

**لسمه ماده:**

(۱) د افغانستان د ملي امنيت شوري مکلفه ده، له ديپلوماتيکو لارو څخه د تروريزم د تمويل د جرمونو تورن افراد او اشخاص چې د نړيوالو منل شوو شرايطو وړ دي، هغو کميټو ته چې د ملګرو ملتونو د سازمان د ۱۹۸۸ او ۱۲۶۷ ګڼو پرېکړه ليکونو او د هغو د ملحقاتو د تطبيق لپاره جوړ شوي دي، د اړوندو مېکانيزمونو مطابق ور وپېژني او پدې برخه کې اړوند شواهد او سندونه هم نوموړې مرجع ته وړاندې کړي.

(۲) د ملي امنيت شوري کولای شي، د خپلواک له مخې، شخص، بنسټ يا سازمان د داخلي تعزيراتو په لست کې شامل کړي يا د نورو هېوادونو په غوښتنه د لازمو څېړنو له ترسره کولو وروسته په دې هکله، رسيدګي وکړي.

(۳) که چېرې د ملي امنيت له شوري سره، د لاندې اعمالو د يوه د ترسره کولو په اړه قناعت بښونکي دلايل شتون ولري، کولای شي نوموړی شخص، بنسټ يا

## شامل ساختن در لست تعزيرات

**مادهٔ دهم:**

(۱) شورای امنيت ملی افغانستان مکلف است از طريق مجاری ديپلوماتيک، افراد و اشخاص متهم به جرايم تمويل تروريزم را که واجد شرايط قبول شدهٔ بين المللی باشند، به کميته هايی که جهت تطبيق قطعنامه های شماره ۱۹۸۸ و ۱۲۶۷ سازمان ملل وملحقات آن تشکيل گرديده اند، مطابق ميکانيزم های مربوط معرفی نموده و شواهد و اسناد مربوطه در اين زمينه را نيز به مرجع مذکور ارائه نمايد.

(۲) شورای امنيت ملی می تواند بنا بر صلاحيت خويش، شخص، نهاد يا سازمانی را در لست تعزيرات داخلی شامل نموده يا به درخواست ساير کشورها بعد از انجام بررسی های لازم در اين باره، رسيدگی نمايد.

(۳) هرگاه نزد شورای امنيت ملی، دلايل قناعت بخش مبنی بر انجام يکی از اعمال ذيل وجود داشته باشد، می تواند شخص، نهاد يا سازمان متذکره را در

سازمان د داخلي تعزيراتو په لست کې شامل کړي:

۱ - هغه شخص، بنسټ يا سازمان چې د تروريست يا د تروريستي سازمان په توګه فعاليت ولري.

۲ - هغه شخص، بنسټ يا سازمان چې د تروريست د تمويل دنده د بل شخص، بنسټ يا سازمان لپاره ترسره کړي.

۳ - هغه شخص، بنسټ يا سازمان چې په تروريستي جرم کې يې ګډون کړی وي يايې د تروريستي جرم د ارتکاب لپاره هڅه اويا اسانتياوې برابرې کړې وي.

۴ - هغه شخص، بنسټ يا سازمان چې مالکيت يا کنترول يې ددې مادې په (۱، ۲ او ۳) اجزاووکې د درج شوي شخص، بنسټ يا سازمان په واک کې وي.

۵ - هغه شخص، بنسټ يا سازمان چې ددې مادې په (۱، ۲ او ۳) اجزاوو کې د درج شوي شخص، بنسټ يا سازمان په استازيتوب يا لارښوونه او امر فعاليت وکړي.

(۴)د تعزيراتو په لست کې د شخص،

لست تعزيرات داخلی شامل سازد:

۱ - شخص، نهاد يا سازمانيکه به حيث تروريست يا سازمان تروريستی فعاليت داشته باشد.

۲ - شخص، نهاد يا سازمانی که وظيفۀ تمويل تروريست را برای شخص، نهاد يا سازمان ديگر انجام دهد.

۳ - شخص ، نهاد يا سازمانيکه در جرم تروريستی اشتراک يا برای ارتکاب آن سعی و يا تسهيلات فراهم نموده باشد.

۴ - شخص، نهاد يا سازمانی که مالکيت يا کنترول آن در اختيار شخص، نهاد يا سازمان مندرج اجزای (۱ ، ۲ و ۳) اين ماده باشد.

۵ - شخص، نهاد يا سازمانی که به نمايندگی يا به امر و هدايت شخص، نهاد يا سازمان مندرج اجزای (۱، ۲ و ۳) اين ماده فعاليت نمايد.

(۴) شامل ساختن نام شخص، نهاد يا

بنسټ یا سازمان د نوم شاملول د هغو کنوانسیونونو د حکمونو پربنسټ چې افغانستان له هغو سره یوځای شوی یا داسې مقرراتو صورت مومي چې ددې قانون د حکمونو له مخې وضع کېږي.

(۵) د افغانستان د ملي امنیت شوري مکلفه ده، په لنډ وخت کې د تعزیراتو په لست کې د شخص، بنسټ یا سازمان د نوم د ور زیاتولو په اړه چې ددې مادې په (۱ او ۳) فقروکې د درج شوي حکم له مخې، صورت مومي، څارنوالۍ او نورو اړوندو مراجعو ته خبر ورکړي.

## د ملي امنیت د قطع لیکونو پربنسټ د وجوهو او شتمنیو کنګلول

**یوولسمه ماده:**

(۱) د افغانستان د ملي امنیت شوري مکلفه ده، په لنډ وخت کې د هغو اشخاصو د نوم په اړه چې د ملګرو ملتونو د سازمان د امنیت شوري د (۱۲٦۷ او ۱۹۸۸) ګڼو پرېکړه لیکونو او د هغو د متعاقبو پرېکړه لیکونو پربنسټ، د ملګرو ملتونو د سازمان د منشور تر اووم فصل لاندې د تعزیراتو په لست کې ورزیاتېږي،

سازمان در لست تعزیرات بر اساس احکام کنوانسیون های که افغانستان به آن پیوسته یا مقرراتی که به تأسی از احکام این قانون وضع می گردند، صورت می گیرد.

(۵) شورای امنیت ملی افغانستان مکلف است به اسرع وقت در رابطه با اضافه نمودن نام شخص، نهاد یا سازمان در لست تعزیرات، که به تأسی از حکم مندرج فقره های (۱و۳)این ماده صورت می گیرد، به څارنوالی وسایر مراجع ذیربط اطلاع دهد.

## انجماد وجوه و دارایی ها بر اساس قطعنامه های شورای امنیت ملی

**مادۀ یازدهم:**

(۱) شورای امنیت ملی افغانستان مکلف است، به اسرع وقت در رابطه با نام اشخاصی که بر اساس قطعنامۀ شماره (۱۲٦۷ و ۱۹۸۸) شورای امنیت سازمان ملل متحد و قطعنامه های متعاقب آن تحت فصل هفتم منشور سازمان ملل متحد به لست تعزیرات اضافه می شوند به

څارنوالۍ ته خبر ورکړي.

(۲) څارنوالۍ مکلفه ده، د هغه شخص، بنسټ يا سازمان وجوه او شتمنۍ چې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي حکم او ددې قانون د لسمې مادې مطابق د تعزيراتو په لست کې راځي، د قانون د حکمونو په حدودوکې شخص يا اړوندې مرجع ته له خبر پرته، کنګلې کړي.

(۳) اشخاص، مالي مؤسسې او نورې رپوټ ورکوونکې مراجعې مکلفې دي، د څارنوالۍ د تصميم له ابلاغ وروسته په لنډ وخت کې لاندې اقدامات ترسره کړي:

۱- د هغو سازمانونو او اشخاصو د وجوهو او شتمنيو کنګلول چې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي حکم او ددې قانون د لسمې مادې مطابق، د تعزيراتو په لست کې شاملېږي.

۲- په مستقيم يا غير مستقيم ډول د تعزيراتو په لست کې شاملو اشخاصو ته يا د هغوی په ګټه يا د وجوهو او شتمنيو، مالي سرچينو يا د نورو مالي خدمتونو په واک کې له ورکولو څخه ډډه کول.

(۴) هغه رپوټ ورکوونکې مراجع چې

څارنوالی اطلاع دهد.

(۲) څارنوالی مکلف است ، وجوه يا دارائی های شخص، نهاد يا سازمانی را که مطابـــق حکم مندرج فقرۀ (۱) اين ماده و مــــادۀ دهم اين قانون در لست تعزيرات قرار می گيرد، بدون اطلاع به شخص يا مرجع مربوط در حدود احکام قانون، منجمد نمايد.

(۳) اشخاص، مؤسسات مالی و ســـاير مراجع راپور دهنده مکلف اند بعد از ابلاغ تصميم څارنوالی به اسرع وقت اقدامات ذيل را اتخاذ نمايند:

۱- انجماد وجـــوه و دارائـــی هـــای ســـازمان ها و اشخاصـــی را که مطابق حکم مندرج فقرۀ (۱) اين ماده و مادۀ دهم اين قانون در لست تعزيرات شامل می گردند.

۲- خود داری از در اختيار قرار دادن مستقيم يا غير مستقيم وجوه و دارايی متذکره ، منابع مالی يا ارائه ساير خدمات مالی به اشخاص شامل لست تعزيرات يا به نفع آنها .

(۴) مــــراجع راپـــــور دهندۀ که حکم

ددې مادې په (۳) فقره کې درج شوی حکم تطبیق نکړي، د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د را پیدا شوو عوایدو د مخنیوي د قانون د حکمونو مطــابق، د څارنیزو واکمنو مراجعو د تنفیذي واک تابع گرځي.

(۵) ددې مادې په (۳) فقره کــې درج شوي تدبیرونه او اقدامات، پر لانــدې وجوهو او شتمنیو باندې د تطبیق وړ دي:

۱ - هغه وجوه او شتمنۍ چې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو سازمانونو او اشخاصو په واسطه په یوازې یا د هغو د خاوند په گډون یا په مستقیم یــا غیــر مستقیم ډول کنترولېږي.

۲ - هغه وجوه او شتمنۍ چې ددې فقرې په (۱) جزء کې له درج شوو وجوهو او شتمنیو څخه لاسته راغلي یــا د هغــو اشخاصو او سازمانونو وجوه او شتمنۍ چې ددې فقرې په (۱) جزء کې له درج شوو اشخاصو څخه استازیتوب کوي یا د هغو د لارښوونو پربنسټ عمل کوي.

۳– که چېرې هغه وجوه او شتمنۍ چې باید تر کنگل لاندې ونیــول شــي، د

منــــدرج فقرهٔ (۳) این ماده را تطبیق ننماینـــد، طبـــق احکـــام قـــانون جلــوگیری از پــول شـــوئی وعواید ناشی ازجرایم، تابع صلاحیت تنفیذی مــراجــع ذیصــلاح نظارتــی قــرار می گیرند.

(۵) تدابیرواقدامات مندرج فقرهٔ (۳) این ماده بر وجوه و دارائی های ذیل قابل تطبیق می باشند:

۱ - وجـــوه و دارائی های که توسط سازمانها و اشخاص مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به تنهائی یا مشارکت مالک آن یا طور مســـتقیم یا غیر مستقیم کنترول می گردد.

۲ -وجــوه و دارائی های که از وجوه و دارائــی های مندرج جزء(۱) این فقره به وجود آمده یا وجوه و دارائی های اشــخاص و سازمــان هایی کـــه از اشــخاص منــدرج جزء (۱) این فقره نماینـــدگـــی یا بنا بر هدایت آنها عمل می نمایند.

۳ - هرگاه وجوه و دارائی های که باید تحت انجماد قرارگیرند، در دســترس

لاسرسي ورې نه وي يا ورانديږ نه کړای شي، د کنګلولوحکم د دغو شتمنيو پر ورته يا معادل ارزښت باندې تطبيقيږي.

(٦) د ملي امنيت شوري مکلفه ده، هغه بدلونونه چې د لاندې اشخاصو، بنسټ يا سازمانونو په اړه د ملګـــرو ملتونـــو د سازمان د امنيت شوري لخوا صـــورت مومي، په لنډ وخت کې څارنوالۍ ته خبر ورکړي:

۱ - هغه اشخاص، بنسټونه يا سازمانونه چې د ملګرو ملتونو د سازمان د امنيت شوري د (۱۲٦۷ يا ۱۹۸۸) ګڼو پرېکړه ليکونو پربنسټ، د تعزيراتو په لست کې ور زيات شوي يا له لست څخه لېـــرې شوي وي.

۲ - هغه اشخاص، بنسټونه يا سازمانونه چې د ملګرو ملتونو د امنيت شوري د سازمان د متعاقبو قطع ليکونو پر بنسټ، ددې قانون د درج شوو حکمونو مطابق د تعزيراتو په لست کې ور زيات يـــا لـــه نوموړي لست څخه لېرې شوي وي.

۳ – هغه اشخاص، بنسټونه يا سازمانونه چې د دغه قانون د لسمې مادې د حکم

نبوده يا ارائه شده نتواند ، حکم انجماد بر دارايی های مشابه يا معادل به ارزش آنها تطبيق می گردد.

(٦) شـــورای امنيت مـــلی مکلف است تغييراتی را که از جانب شورای امنيت سازمان ملل متحد در رابطه با اشخاص، نـــهاد يا ســـازمان های ذيل صورت می گيرد، بـــه اسرع وقت به څارنوالی اطلاع دهد:

۱ - اشخاص، نهاد ها يا سازمان هايی که بر اساس قطعنامه هـــای شـــماره (۱۲٦۷ يا ۱۹۸۸) شـــورای امنيت سازمـــان ملل متحد در لست تعزيرات اضـــافه يا از لســـت حـــذف گرديده باشند.

۲ - اشخاص، نهاد ها يا سازمان هايی که براساس قطعنامه های متعاقب شورای امنيت سازمان ملـــل طبـــق احکـــام مندرج اين قانون در لست تعزيـــرات اضافه يا از لست مذکورحذف گرديده باشند.

۳ - اشخاص، نهادها يا سازمان هايی که طبق حکم مادهٔ دهم اين قانون، بنا بر

مطابق، د ملي امنيت شوري د تشخيص پر بنسټ يا د بل هېواد د غوښتنې له مخې د تعزيراتو په لست کې ور زيات يا لـه لست څخه لېرې کېږي.

(۷) د ملي امنيت شوري او څـارنوالي مکلفې دي، ددې قانون د حکمونو د ښه تعميلولو او د لانـدې موضـوعګانو د تنظيمولو په منظور، د مقررې وضع کول وړانديز کړي:

۱- د (۱۲٦۷، ۱۹۸۸) پرېکړه ليک د اړوندو تعزيراتو او د ملګرو ملتونـو د سازمان د امنيت شوري د متعاقبو پرېکړه ليکونو او د هېواد دکورنيو تعزيراتو په لست کې د اشخاصـو، بنـسټونو او سازمانونو د نوم شاملول.

۲- د چټک او له ځنډ پرته کنګلولو په اړه د اړوندو مراجعو ملزمول.

۳- له خصوصي سکتور سره د اړيکو د تأمينولو څرنګوالی.

۴- په څارنې پورې اړوند مېکانيزم او رپوټ ورکوونکو مراجعو ته ددې قانون او اړوندو مقرراتو د حکمونو له تطابق څخه د ډاډ ترلاسه کول، هغه قواعد او

تشخيص شورای امنيت ملی يا بنا بـر درخواست کشور ديگـر در لـست تعزيرات اضافه يا از لـست حـذف می گردند.

(۷) شورای امنيت ملی و څارنـوالی مکلف اند به منظـور تعميل بهتر احکام اين قانون و تنظـيم مـوضـوعات ذيـل، وضـع مقـرره را پيشنهاد نمايند:

۱- شامل سـاختن نـام اشـخاص، نهاد ها و سازمان ها درلست تعزيرات مربوط به قطعنامه (۱۲٦۷، ۱۹۸۸) و قعطنامه های متعاقب شورای امنيـت سـازمان ملـل و تعزيـرات داخـل کشور.

۲- الزام مراجع مربوط مبنی بر انجماد سريع و بدون تأخير.

۳- چگونگی تأمين ارتباطات با سکتور خصوصی.

۴- ميکانيزم مربوط به نظارت و حصول اطمينـان از تطـابق احکـام ايـن قانون و مقررات مربوط بر مراجع راپور دهنده، قواعد و هـداياتی کـه بـه

لاربښوونې چې ددې قانون او مقررې د حکمونو له مخې، صادرېږي.

۵- د ثالثو اشخاصو له حقوقو څخه ساتنه.

٦ - د هغو اشخاصو د هویت د تشخیصولو په اړه د معلوماتو او شواهدو د راټولولو کړنلاره چې تر تعزیراتو لاندې راځي یا د دې قانون د لسمې مادې په دریيمه فقره کې د درج شوو حکمونو له مخې، د تعزیراتو په لست کې د درجولو په منظور، وړاندیزکېږي.

۷- د تعزیراتو له لست څخه د وتلو لپاره د غوښتنلیک د وړاندې کولو کړنلاره په هغه حالت کې چې دافغانستان دولت پدې باور وي چې د تعزیراتو په لست کې په ګډون پورې اړوند معیارونه لدې نه زیات د تطبیق وړ نه دي یا د وجوهو او شتمنیو کنګلول رفع شوي او باید د تعزیراتو له لست څخه حذف شي.

۸- د څارنوالۍ په واسطه د تعزیراتو په لست کې د څېړنې یا نوې کتنې کړنلاره او د اشخاصو، سازمانونو یا د هغو ډلو د وجوهو او شتمنیو بهر کول چې د داخلي

تأسی از احکام قانون و مقرره صادر می گردد.

۵ - حفاظت از حقوق اشخاص ثالث.

٦- طرزالعمل جمع آوری معلومات و شواهد در رابطه با تشخیص هویت اشخاصی که تحت تعزیرات قرار می گیرند یا به تأسی از احکام مندرج فقرهٔ سوم مادهٔ دهم این قانون به منظور درج در لست تعزیرات پیشنهاد می شوند.

۷ - طرزالعمل ارائه درخواست جهت خارج شدن از لست تعزیرات در حالتی که دولت افغانستان بر این عقیده باشد که معیارهای مربوط به شمولیت در لست تعزیرات بیش از این قابل تطبیق نبوده یا انجماد وجوه و دارائی ها رفع گردیده و باید از لست تعزیرات حذف شوند.

۸- طرزالعمل بررسی یا تجدید نظر در لست تعزیرات توسط څارنوالی و خارج ساختن وجوه یا دارائی های اشخاص، سازمان ها یا گروه های که در لست

تعزيراتو په لست کې شامل شوي دي، په هغهٔ صورت کې چې په لست کې د ګډون معيارونه شتون ونه لري يا د تطبيق وړتيا ونه لري.

۹- لومړنيو لګښتونو يا د نورو لګښتونو د ورکړو لپاره وجوهو يا شتمنيو ته د لاس رسی د اجازې څرنګوالی.

۱۰- د هغو اشخاصو، بنسټونو او سازمانونو د اعتراض څرنګوالی چې د تعزيراتو په لست کې شامل شوي دي.

۱۱- د هغو اشخاصو د وجوهو يا شتمنيو د بهرکېدلو کړنلاره چې د ورته نوم لرونکې وي او په تېروتنې سره په لست کې شامله شوې وي.

۱۲- ددې قانون د حکمونو د تطبيقولو لپاره نورې کړنلارې او مېکانيزمونه.

## د کنګل کولو شخړې

**دوولسمه ماده:**

(۱) هغه شخص، بنسټ يا سازمان چې د ملګرو ملتونو د سازمان د امنيت شورې د پرېکړه ليکونو پربنسټ، د هغوی نومونه د تعزيراتو په لست کې ور زيات او وجوه يا شتمنۍ يې کنګل شوي وي، په هغهٔ

تعزیرات داخلی شامل شده اند، درصورتی که معیارهای شمولیت در لست موجود نبوده یا قابلیت تطبیق را نداشته باشند.

۹- چگونگی اجازهٔ دسترسی به وجوه یا دارائی ها جهت پرداخت مصارف ابتدائی یا سایر مصارف.

۱۰- چگونگی اعتراض اشخاص، نهادها و سازمان هایی که درلست تعزیرات شامل گردیده اند.

۱۱- طرزالعمل خارج ساختن وجوه یا دارائی های اشخاص که دارای نام مشابه بوده و به اشتباه در لست تعزیرات شامل شده اند.

۱۲- سایر طرزالعمل ها و میکانیزم ها جهت تطبیق احکام این قانون.

## منازعات منجمد سازی

**مادهٔ دوازدهم:**

(۱) شخص، نهاد یا سازمانی که بر اساس قطعنامه های شورای امنیت سازمان ملل نامشان در لست تعزیرات اضافه و وجوه یا دارایی آنها منجمد گردیده باشد، در صورتی که مدعی

صورت کې چې مدعي وي چې نومونه يې سهواً په نوموړي لست کې درج شوي يا پر هغوی باندې تعزيرات رفع شوي دي، کولای شي په همدې اړه د نوموړو پرېکړه ليکونو مسئولو کميټو ته غوښتنليک وړاندې کړي.

(۲) هغه شخص، بنسټ يا سازمان چې ددې قانون د لسمې مادې په (۲) فقره کې له درج شوي حکم سره په مطابقت کې، د هغوی نومونه د داخلي تعزيراتو په لست کې ور زيات او وجوه يا شتمنۍ يې کنګل شوي وي، په هغهٔ صورت کې چې مدعي وي چې نومونه يې سهواً په نوموړي لست کې درج شوي يا پر هغوی باندې تعزيرات رفع شوي دي، کولای شي په همدې اړه د ملي امنيت شوري ته غوښتنليک وړاندې کړي.

## مصادره

### ديارلسمه ماده:

هغه وجوه يا شتمنۍ چې د تروريزم د تمويل د جرم په ارتکاب کې ترې ګټه اخيستل شوې وي يا ددې قانون په څلورمه ماده کې د درج شوو تروريستي

باشند که نام شان سهواً در لست متذکره درج گرديده يا تعزيرات از آنها رفع شده است می توانند، درخواستی را در همين رابطه به کميته های مسئول قطعنامه های متذکره ارائه نمايند.

(۲) شخص ، نهاد يا سازمانی که در مطابقت با حکم مندرج فقرهٔ (۲) مادهٔ دهم اين قانون نام شان در لست تعزيرات داخلی اضافه و وجوه يا دارائی های آنان منجمد گرديده، در صورتی که مدعی باشند که نام شان سهواً در لست متذکره درج گرديده يا تعزيرات از آنها رفع شده است می توانند، درخواستی را در همين رابطه به شورای امنيت ملی ارائه نمايند.

## مصادره

### مادهٔ سيزدهم:

وجوه يا دارائی های که در ارتکاب جرم تمويل تروريزم مورد استفاده قرار گرفته يا به منظور ارتکاب جرايم تروريستی مندرج مادهٔ

جرمونو د ارتکاب په منظور، برابر شوي وي، د پيسو د وينځلو او له جرمونو څخه د را پيدا شوو عوايدو د مخنيوي د قانون د پنځم فصل د حکمونو مطابق، مصادره کېږي.

(۱) لاندې وجوه او شتمنۍ د تروريزم د تمويل د جرم په ارتکاب يـا د هغـه د ارتکاب په قصد د شخص د محکوميت په صورت کې د واکمنې محکمې له خوا مصادره کېږي:

۱ – هغه وجوه يا شتمنۍ چې د جرم په ارتکاب کې ترې ګټه اخيستل شوې يا د ګټې اخيستنې قصد يې موجود وي يا د دې قانون د څلورمې مادې د منـدرجو تروريستي جرمونو د ارتکاب په موخـه راټولې شوې وي.

۲ – له جرمي عوايدو څخه د ترلاسـه شويو ګټو يا عوايدو په ګډون هغه وجوه او شتمنۍ چې په مستقيم يا غيرمستقيم ډول له جرمي عوايدو څخه ترلاسه شوې وي، يا له هغو څخه اخيستل شوې وي او يا يې له تبادلې څخه لاسته راغلې وي.

۳ – هغه وسايل او امکانات چې له هغو

چهارم اين قانون تهيه شـده باشـد، مطابق احکام فصل پنجم قانون جلوگيری از پـول شـوئی و عـوايد ناشـی از جرايم، مصادره می گردد.

(۱) وجوه و دارائی های ذيل در صورت محکوميت شخص به ارتکاب جرم تمويل تروريزم يا قصد ارتکاب آن، از طرف محکمـۀ ذيـصلاح مـصادره می گردد:

۱- وجوه يا دارائی های که در ارتکاب جرم مورد استفاده قرارگرفته يا قـصد استفاده از آن موجود بوده يا به قصد ارتکاب جرايم تروريستی مندرج مادۀ چهارم اين قانون جمـع آوری شـده باشد.

۲- وجوه و دارائی های که به شـکل مستقيم يا غير مستقيم از عوايد جرمی بدست آمده يا از آن مشتق گرديده و يا از تبادلۀ آن بدست آمده باشد بشمول عوايد يا منافع حاصل شده از عوايـد جرمی.

۳- وسـايل و امکانـاتی کـه از

ځخه د تروریزم د جرم د تمویل په ارتکاب کې ګټه اخیستل کېږي یا له هغو ځخه د تروریزم د تمویل د جرم د ارتکاب لپاره دګټې اخیستنې قصد شتون ولري.

(۲) د دې مادې د (۱) فقرې په (۱ او ۳) اجزاووکې مندرج وجوه او شتمنۍ چې دریم شخص ته لېږدول شوي وي او هغه په ښه نیت عمل کړی وي یا شخص ثابته کړي چې د دې ډول وجوهو او شتمنیو د ترلاسه کولو په مقابل کې یې مناسب قیمت ورکړی یا یې د هغو د ارزښت د معادلو خدمتونو په بدل کې له بلې مشروع لارې ځخه لاسته راوړي وي او د دې ډول وجوهو او شتمنیو د غیرقانوني توب منشاء په اړه آګاهي ونه لري، په دې صورت کې یاد وجوه او شتمنۍ له مصادرې ځخه مستثني دي.

(۳) که چېرې هغه وجوه او شتمنۍ چې په مستقیم یا غیرمستقیم ډول له جرمي کړنې ځخه ترلاسه شوي وي، د دریم شخص له وجوهو او شتمنیو سره چې په ښه نیت او له مشروع سرچینوځخه یې لاسته راوړې وي، ګډې وي، د دې ډول

آن در ارتکاب جرم تمویل تروریزم ، استفاده شده یا قصد استفاده از آن در جهت ارتکاب جرم تمویل تروریزم موجود باشد.

(۲) وجوه و دارائی های مندرج اجزای (۱ و۳) فقرهٔ (۱) این ماده که به شخص ثالث منتقل گردیده و وی با حسن نیت عمل نموده باشد یا شخص ثابت نماید که در مقابل دریافت چنین وجوه و دارائی ها قیمت مناسب را پرداخته یا آنرا در بدل خدمات معادل به ارزش آن یا از طرق مشروع دیگری بدست آورده و از غیر قانونی بودن منشاء چنین وجوه و دارائی ها، آگاهی نداشته است در این صورت وجوه و دارایی های متذکره از مصادره مستثنی می باشد.

(۳) هرگاه وجوه و دارائی های که بصورت مستقیم یا غیر مستقیم از عمل جرمی حاصل گردیده با وجوه و دارائی های شخص ثالث که با حسن نیت عمل نموده و وجوه و دارائی های متذکره را ازمنابع مشروع بدست آورده ، مخلوط

وجوهو او شتمنيو د مصادرې حکم په هغه اندازه صورت مومي چې له جرم څخه د ترلاسه شوو وجوهو او شتمنيو د عوايدو له ارزښت سره، د محکمې د ارزونې مطابق معادل وي.

(۴) که چېرې هغه وجوه او شتمنۍ چې په مصادره يې حکم صادر شوی وي، د ترلاسه کېدو وړ نه وي، د هغو د ارزښت معادلو يا ورته وجوهو او شتمنيو پر ورکړې باندې حکم صادرېږي.

(۵) د مصادرې په حکم کې، د مصادرې وړ وجوهو او شتمنيو اندازه مشخصېږي.

## د تروريستي سازمان د وجوهو او شتمنيو مصادره

### څوارلسمه ماده:

هغه وجوه يا شتمنۍ چې تروريستي سازمان د هغو د ورکړې واک و لري، د مجرميت يا له ارتکاب موندونکي جرم سره د وجوهو او شتمنيو د تړاو له په پام کې نيولو پرته، مصادره کېږي.

باشد، حکم مصادره چنين وجوه و دارائی ها به اندازه ای صورت می گيرد که با ارزش عوايد وجوه و دارائی های حاصله از جرم، مطابق ارزيابی محکمه معادل باشد.

